AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: لیون پولادا او لیلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada ۲۰۲۰/۰۹/۲۷
مترجم: عبدالباري جهاني

# د افغانستان شاهي دولت او متحده ایالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

پنځمه برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډیپلوماټ لیون پولادا او د هغه مېرمني لیلا پولادا لیکلی دی. که څه هم چي ټول کتاب د افغانستان او امریکاد اړیکو په اړه دی خو ځیني فصلونه یي د افغانستان له اوسنیو حالاتو سره مستقیم تړاو لري ما یي هغه د ترجمي لپاره انتخاب کړي دي. زه یقین لرم چي دا فصلونه به د افغانستان د تاریخ د علاقه مندانو او تاریخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

## شپږم فصل

### پښتونستان ۲: زهر د دوستی په خُم کي

### د زهرو لوښی پر اور کښېښودل سو

د پښتونستان د مسلې پر سر اختلاف هغه وخت د یوه لوی جنجال په حیث مطرح سو چي، له دوهم نړی وال جنګ څخه وروسته، پر هند باندي د برتانیي کنټرول کمزوری سو. په دغه وخت کي د ډیورنډ د کرښي په ختیځ کي له پرتو پښتنو سره د افغانستان علاقي ښودلو زور واخیست. کله چي د هند او پاکستان وېشل کېدل را نیژدې سوه نو د افغانستان حکومت د برتانیي حکومت ته یوه سلسله خواستونه وکړل او پر دې خبري یي ټینګار وکړ چي د قبایلو په باره کي په هرډول بحث کي باید افغانستان ته برخه ورکړه سي. په ۱۹۴۴ کال کي، چي جنګ لا روان وو، د افغانستان حکومت د هند حکومت ته یولیک واستاوه او، د هند د خپلواک کېدلو په صورت کي یي، د پښتنو له سرنوشت سره د افغانستان علاقه ښودلي وه.

د ۱۹۴۷ کال د اګست په میاشت کي، د هند د خپلواکی څخه لږ مخکي، د افغانستان صدراعظم شاه محمود خان، متحده ایالاتو ته په لاره کي، په لندن کي تم سو او له خارجه وزیر ارنیسټ بیوین Ernest Bevin سره یي وکتل او هغه اطمینان ورکړ چي د افغانستان او د شمال لویدیځي صوبې د پښتنو ترمنځ کلتوري ورور ګلوی ته به تاون ونه رسیږي. ضمنا په نوي ډهلي کي ، چي لارډ مونټ بیټن Lord Mountbatten د هند د خپلواکی په باب وروستي مذاکرات کول، د افغانستان خاص استازي ډاکټر نجیب الله د پښتنو د سیمو له وضعی سره علاقه ونښودله. نجیب الله مونټ بیټن ته وویل افغانستان پر دې خبري ټینګار کوي چي پښتنو ته دي د خپل سرنوشت د ټاکلو اختیار ورکړه سي او افغانستان غواړي چي په دې برخه کي سلامشوره ورسره وسي. مونټ بیټن، چي هغه وخت د هند د کانګرئیس ګوند او مسلم لیګ تر منځ د اختلافاتو په موضوع کي سخت مصروف وو، نجیب الله ته اطمینان ورکړ چي د پښتنو ستونزي ته به په خپل وخت کي مناسبه توجه وسي.

د افغانستان استازي ته چي پر خپل وخت وعده ورکړه سوې وه هغه دا وه چي په شمال لویدیځ ایالت کي یوه عمومي رایه ګیري وسوه او پښتنو ته یي یوازي دوه انتخابه ورکړه: له هند سره یو ځای کیږی که له پاکستان سره. ډیرو پښتنو له دې ریفرنډم سره مقاطعه وکړه او د رایو له مستحقو کسانو څخه یوازي ۵۵ فیصده خلکو برخه پکښي واخیستله. په داسي حال کي چي په مخکنیو ایالتي انتخاباتو کي ۸۶ فیصده خلکو برخه اخیستي وه. له ۵۵ فیصده مستحقو کسانو له جملې څخه پراخ اکثریت پاکستان ته رایه ورکړه. په قبایلي سیمو کي د حکومت د سیاسي استازو تر څارني لاندي قبایلي جرګي وسوې. بیا هم انتخاب یوازي د هند او پاکستان ترمنځ وو. د قبایلو خلکو طبعاً تر هندوستان پاکستان غوره وباله.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

افغانستان پر دې ريفرنډم او جرګو باندي سخت اعتراض وکړ او ويل يې چي پښتانه د خپلواکۍ سره ډېره ټينګه علاقه لري. دوی له هغه آزاد انتخاب څخه چي ژمنه يې ورسره سوې وه محروم کړه سوي دي. د افغانستان په اعتراض کي چا ری ونه واهه. برتانيې فقط دونه جواب ورکړ چي د سرحد ستونزه د انګلستان او افغانستان ترمنځ د ۱۹۲۱ کال د تړون په اساس حل سوې ده.
تقريباً سمدستي، د افغانستان او د نوي ايجاد سوي پاکستان ترمنځ اړيکي خراب سول. د ۱۹۴۷ کال د سپتمبر په مياشت کي، افغانستان يوازينی هيواد وو چي په ملګرو ملتونو کي يې د پاکستان د شامليدلو پر ضد رايه ورکړه. افغانستان نجيب الله کراچي ته واستاوه چي، د پاکستان له لومړني ګورنرجنرال، محمدعلي جناح سره، پر دغي ستونزي باندي، خبري وکړي. نجيب الله وليدل چي د پاکستان اکثرمشران، د محمدعلي جناح په شمول، له هند څخه راغلي مهاجرين ول؛ او د پښتنو د سيمو په ستونزو چنداني نه پوهېدل. جناح له نجيب الله سره ژمنه وکړه چي پر دې موضوع به غور وکړي او په ضمن کي يې نجيب الله ته وويل چي دواړه هيوادونه بايد ډيپلوماتيک اړيکي سره ټينګ کړي. افغانستان سمدستي په ملګرو ملتونو کي خپله منفي رايه بيرته واخيستله او د دې لپاره چي د پښتنو د سيمو پر ستونزو يې تاءکيد کړی وي، د پاچا کاکا، شاه ولي خان يې کراچي ته د سفير په حيث ولېږی.
افغانستان ډاکتر نجيب الله، نوي ډهلي ته، د خپل لومړني سفير په حيث، واستاوه چي د پښتنو مسله تعقيب کړي. نجيب الله وليدل چي په هند کي د ده له خبرو او غوښتني سره علاقه څرګنديږي او يو علت يې داوو چي د نيمي قاري وېش پخپله غير دوستانه کار وو او د پاکستان له ايجاديدلو سره ډېر لوی فرقه اي ښورښونه پيل سول او په سل هاوو زره مسلمانان او هندوان پکښې قتل سول. په دې پسي دونه زيات خلک سره تبادله سول چي په تاريخ کي يې ساری نه وو ليده سوی. په ميليونونو مسلمانان له هند څخه وتښتېدل او په ميليونونو هندوان او سيکهان له پاکستان څخه ووتل. پاکستان او هند هم د مشترک حکومت د شته منيو پرويش باندي جنګ سره وکړ او تر ټولو زيات د کشمير پر مسله باندي سره وجنګېدل. په کشمير کي يوه هندو مهاراجا له هند سره د يوځای کېدلو فيصله وکړه؛ که څه هم چي د هغه ځای د خلکو پراخ اکثريت مسلمانان ول. د پښتونستان په قضيه کي، هند ته پر پاکستان باندي د فشار اچولو فرصت لاسته ورغی او له دغه امله يې افغانستان، په خپلو غوښتنو کي، تشويق کړ. د پښتونستان له مسلې څخه د هند ګټی اخيستلو پاکستان نور هم په غوسه کړ.
متحده ايالاتو هم دا زهر وڅکل:

## The United States Tastes the Poison

پاکستان لا د جوړېدلو په حال کي وو چي متحده ايالاتو د پښتونستان په اختلاف کي ډېره برخه واخيستله. د برتانيې خارجه وزارت په لندن کي د امريکا له سفارت سره دا موضوع راپورته کړه. هغوی ته يې د پښتنو له مسلې سره د افغانستان د علاقي او په لندن کي د خارجه وزير بيوين سره د صدراعظم شاه محمودخان د خبرو په باره کي رپوټ ورکړ. برتانيې وويل چي د افغانستان له دې غوښتني سره هيڅ خواخوږي نه لري. برتانيې وويل چي دوی له افغانستان سره چنداني ملګرتوب نه سي کولای ځکه چي پاکستان د برتانيې د مشترک بازار د هيوادونو غړی کيږي. په مقابل کي متحده ايالاتو له افغانستان سره ډېر دوستانه اړيکي درلودل او کولای يې سوای چي د افغانستان نظريات نرم کړي. په همدغه وخت کي په واشنګټن کي د افغانستان سفير عبدالحسين عزيز د امريکا د خارجه وزارت مقاماتو ته شکايت وکړ چي محمدعلي جناح له خپلو هغو ژمنو څخه سرغړونه کړې ده چي ويل يې له افغانستان سره به د پښتنو پر موضوع بحث وکړي.
د پښتنو د ستونزي په برخه کي د امريکا د خارجه وزارت مخکني نظريات د افغانستان له دريځ سره برابر نه وه؛ مګر د تفاهم زمينه يې درلوده. د مثال په ډول په لندن کي د امريکا سفارت ته په يوه ټلګرام کي راغلي وه:
د برتانيې خارجه وزارت د ستونزو د حلولو لپاره مثبت سلوک نه دی غوره کړی. د دوی سلوک يوازي، په کابل کي د برتانيې د هيات، يو طرفه نظرياتو ته انعکاس ورکوي. دغه ستونزه ډېري ژوري ريښې لري او د سرحد د وضعي د خرابولو د عامل په توګه به دوام ولري او چي تر څوپوري د دواړو خواوو ترمنځ وروستنی تفاهم منځته راغلی نه وي دا ستونزه به د سرحد امنيت په خطر کي اچوي. خو خارجه وزارت د افغانانو د دريځ ملاتړ نه کوي او په دې عقيده دی چي د هغوی دريځ، د بين المللي قانون له مخي، کمزوری دی.
د هغه وخت له نورو اسنادو څخه څرګنديږي چي واشنګټن نه غوښتل برتانيه يې په داسي اختلافاتو کي ور ګډ کړي چي د امريکا مقاماتو هغه د استعمار د وخت د پاليسيو محصول بلل. خو کله چي افغانستان په ملګرو ملتونو کي د پاکستان شامليدلو ته منفي رايه ورکړه نو پاکستان په ۱۹۴۸ کال کي، د افغانستان د دغه اقدام په بدل کي، پر هغه هيواد باندي اقتصادي محاصره ولګوله او دې اقتصادي محاصرې په افغانستان کي د امريکا د موريئسن کنوډسن Morrison-Knudsen د شرکت پروژې د اکمالاتو چارو ته ډېر سخت زيان ورساوه. دغه شرکت د امريکا خارجه وزارت ته شکايت وکړ او له هغوی څخه يې وغوښتل چي د دغي وضعې د يو څه کرارلو لپاره اقدام وکړي نو واشنګټن زړه نازړه د پښتونستان د مسلې د حلولو ستونزي ته ورګډ سو. واشنګټن لومړی د افغانستان له مقاماتو څخه وغوښتل چي خپل دريځ يو څه نرم کړي. واشنګټن د ۱۹۴۸ کال د جنوري په مياشت کي د افغانستان د عامه خدماتو د چارو وزير محمدکبير لودين ته خبرداری ورکړ چي دغه جنجال د موريئسن کنوډ سن د شرکت پروژې ته زيان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

رسوي او دغه راز د افغانستان پر اقتصاد باندي بده اغېزه کوي. لودين په جواب کي ورته وويل چي د پښتنو سوال د افغانستان تر اقتصادي ودي او د مورئيسن کنوډ سن تر کمپنۍ مهم دی. دا لومړی ځل وو چي د امريکا حکومت متوجه سو چي افغانستان د پښتونستان مسلې ته په څومره ارزښت قايل دی. له دې څخه لږ وروسته د امريکا خارجه وزارت، په واشنګټن کي د افغانستان عالي رتبه مقاماتو ته، د پور په باب مذاکراتو کي، وويل چي د پښتونستان د مسلې پر سر اختلاف د پور په برخه کي فيصلې باندي ښايي اغېزه وکړي.

د ۱۹۴۹ کال د جولای په مياشت کي سردار نعيم، په واشنګټن کي د سفارت څخه، کابل ته ستون سو او هلته يې د امريکا سفارت ته وويل چي هغه د پښتونستان په مسله کي په خاصه توګه او د افغانستان په چارو کي په عام ډول له امريکا څخه ځکه ډېر سخت ناراض دی چي زموږ له ستونزو سره يې هيڅ ډول علاقه نه ده ښکاره کړې او په بشپړه توګه بې تفاوتي ښيي. په افغانستان کي د امريکا سفير لوييس ډرې فس Louis Dreyfus د ۱۹۴۹ کال د ډسمبر په مياشت کي واشنګټن ته رپوټ ورکړ او اندېښنه يې ښکاره کړه چي افغانستان ښايي، د اقتصادي محاصرې له امله، د پښتونستان په مسله کي، له شوروي اتحاد څخه مرسته وغواړي. ډرې فس وليکل چي برتانيې او پاکستان يوشان دريځ نيولی دی. پاکستان وايی د افغانستان حکومت هسي لايي کوي او برتانيه وايی چي تر څو پوري افغانستان له پاکستان سره خپلي ستونزي حل کړي نه وي هغه هيوادته به يوه ذره پوځي وسايل ورنه کړي. واشنګټن دا مفکوره رد کړه چي د وسلو د مرستو او خرڅلاو مسله دي د پښتونستان له قضيې سره وتړل سي.

د هغه کال د مارچ په مياشت کي، د افغانستان او پاکستان اړيکي ځکه لا نور هم خراب سول چي د پاکستان الوتکو د افغانستان په خاوره کي دننه د پښتنو پر يوه کلي بمباري وکړه؛ شپږويشت کسان يې ووژل او ډېر نور يې زخميان کړل. په کابل کي د امريکا ډيپلوماټان، د نورو هيوادونو له ډيپلوماټانو سره يو ځای، د بمب د حملې د ځای د کتلو لپاره ولاړل. يوه ګډ بېطرفه کميسيون د افغانستان په ګټه فيصله وکړه. بالاخره پاکستان مسووليت ومانه او افغانستان ته يې تاوان ورکړ؛ مګر دا وخت د دواړو هيوادونو ترمنځ اختلافات ډېر زيات سوي وه.

د نومبر په مياشت کي سردار داوود خان د قبايلو د چارو وزير سو. له دې سره سمدستي د افغانستان دريځ نور هم سخت سو او، په قبايلي سيمو کي، د پاکستان پر ضد فعاليتونو زور واخيست. کله چي داوود خان په وروسته کلونو کي صدراعظم نو همدغه پاليسی د هغه د دريځ ښکارندوی وه. افغانستان، چي ادعا کيږي د هند اشاره هم ورسره وه، د قبايلي سيمو ځيني مشران دې ته راوبلل چي د ډيورنډ د کرښي ختيځ اړخ محکوم پښتونستان وبولي. د پښتونستان په نوم يو حکومت جوړ سو. حاجي ميرزا علي خان، چي د ايپي فقير په نوم مشهور وو او د برتانيې او پاکستان دواړو پر ضد جنګېدلی وو، په تيرا باغ کي د يوې قومي جرګې په ترڅ کي د پښتونستان لومړنی جمهور رئيس وټاکل سو. له دې څخه لږ وروسته د داوود خان وزارت په کابل کي د خوشحال خان خټک ښوونځی تاسيس کړه. د پاکستان پر خوا د قبايلي سيمو څخه پنځه سوه شاګردان په دې ښوونځي کي شامل سول. هغوی ته په پښتو درس ورکول کېدی او د پښتنو د تاريخ، کلتوري ارزښتونو او له استقلال سره د مينې په باب درسونه ورکول کېدل. داسي رپوټونه لا هم خپاره سول چي له شپږو څخه تر اته لسو کالو پوري هلکانو ته ګيريلايي روزنه هم ورکوله کيږي خو دا رپوټونه به ځکه سم نه وي چي پښتانه په ګيريالايي کلتور کي زيږي او لوييږي او دغه ډول روزني ته اړتيا نه لري.

پاکستان د ۱۹۴۹ کال د ډسمبر په مياشت کي متقابل عمل وکړ او اعلان يې وکړ چي د ۱۹۵۰ د جنوري له لومړۍ نېټه څخه به د افغانستان ټول هغه لارۍ موټرونه چي هغه هيواد ته ، د پاکستان له بندرونو څخه، تېل انتقالوي بند سي ځکه چي د محفوظيت له مقرراتو سره برابر نه دي. افغانستان په مقابل کي په راډيو او مطبوعاتو کي د پاکستان پر ضد تبليغاتو ته زور ورکړ او پاکستان هم د افغانستان پر ضد تبليغات شديد کړل. پاکستان بالاخره د تيلو پر انتقال باندي بنديز د ټولو مالونو بنديز ته ورساوه او پر افغانستان باندي يې يو ډول اقتصادي محاصره ولګول. وروسته يې دغه ته ورته محاصرې په ۱۹۵۱، ۱۹۵۳ او ۱۹۶۱ کلونو کي ولګولې. افغانستان په ملګرو ملتونو کي د پاکستان پر دې عمل باندي احتجاج وکړ او وې ويل چي د هغه هيواد دا عمل د برتانيې او افغانستان تر منځ د ۱۹۲۳ کال د موافقتنامې څخه سرغړونه ده چي وايي افغانستان د برتانوي هند له لاري خپل مالونه په وړيا ډول انتقالولای سي.

افغانستان ويل چي که پاکستان د ډيورنډ د کرښي په برخه کي دا استدلال کوي چي هر څه يې د برتانوي هند څخه په ميراث وړي دي نوبايد چي د ۱۹۲۳ کال موافقتنامې هم رعايت کړي. پاکستان د افغانستان د مقاماتو دا ادعاوي رد کړې او وې ويل چي که افغانستان غواړي چي له پاکستان سره د ښو اړيکو څخه ګټه واخلي نو بايد چي د پښتنو په برخه کي له خپلو ادعاوو څخه تېر سي. کله چي په ۱۹۵۸ کال کي، د متحده ايالاتو په ابتکار، د پاکستان او افغانستان تر منځ د ټرانزيټ موافقتنامه لاسليک سوه نو هغه هم وروسته په همدغه سرنوشت اخته سوه.

د ۱۹۴۹ کال تر پايه پوري واشنګټن په دې پوه سو چي نور له دغي لانجې څخه ګوښه نه سي پاته کېدلای. د امريکا مقاماتو له پاکستاني مقاماتو سره خبري پيل کړې. کله چي دوی د پاکستان د مقاماتو سرزوري او ټينګار وليد نو يې پېشنهاد وکړ چي دا موضوع دي بين المللي کمېسيون ته وسپارله سي او هغه ته دي د قضاوت کولو بشپړ واک ورکړه سي. د دې ترڅنګ، د امريکا ډيپلوماټانو پېشنهاد وکړ چي يو مشورتي هيات دي جوړ سي چي دواړو خواوو ته د ډيورنډ د کرښي په اوږدو کي د اوسېدونکو پښتنو د ستونزو د حلولو په برخه کي مشورې ورکړي او د محلي اختلافاتو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

په باره کې دي تحقیقات وکړي. افغانستان غوښتل چي دا موضوع په ملګرو ملتونو کې طرح کړي مګر امریکا ځکه موافقه نه کوله چي په هغه موسسه کې د طرف نیولو ته مجبوره کېدله.
د ۱۹۴۹ کال د ډسمبر په میاشت کې د نیژدې ختیځ اوجنوبي اسیا په چارو کې د خارجه وزیر مرستیال جورج مګي George C. McGhee پاکستان ته سفر وکړ او د پښتونستان له ستونزي سره د لومړي ځل لپاره آشنا سو. ده وروسته په خپلو خاطراتو کې خپل عکس العمل څرګند کړی دی:
« د هند او پاکستان د بېلېدلو په ترڅ کې، د پښتنو د سیمي واک پاکستان ته وسپارل سو. مګر موضوع ځکه را پورته سوه چي پښتنو ته دا حق نه وو ورکړه سوی چي دوی د پښتونستان په نوم مستقل هیواد غواړي کنه؛ په داسي حال کې چي ډېرو پښتنو د دغه راز استقلال هیله درلوده. دا ستونزه تر اوسه پوري دوام لري. موږ کوښښ وکړ دا ستونزه حل کړو ځو کمونیستان له هغه څخه ګټه وانه خلي. پر دې برسېره د مستقل پښتونستان جوړېدل چنداني ممکن هم نه دي او پرته له موږ څخه به بل هیڅوک مرسته هم ورسره ونه کړي. په هغه وخت کې د متحده ایالاتو او پاکستان اړیکي ورځ تر بلي ښه کېدل. پاکستان، خصوصاً له هند سره د رقابت د فشار له امله، زموږ سره ښه اړیکي ساتل. پاکستان، د مرستو په تېره بیا د وسلو د ترلاسه کولو لپاره، د هند په ځېر بېطرفي څخه ځان وژغوره؛ او ژمنه یې وکړه چي په جنوبي اسیا کې به د کمونیستانو د تېریو په مقابل کې د هغه هیواد پوځ زموږ تر څنګ ودریږي. پاکستان موږ ته تر مطلق بېطرف هند بهتر وو. »
په ۱۹۵۰ کال کې وضع نوره هم خرابه سوه. د ولي خان افرېدي تر مشرۍ لاندي درې قبایلي لښکر د ډیورنډ تر کرښي واوښتل او غوښتل یې چي د اباسین پر غاړه باندي د پښتونستان بیرغ ووهي. پاکستان سمدستي پر افغانستان باندي خپله اقتصادي محاصره سخته کړه. دواړو حکومتونو د یوه بل له هیواده څخه سفیران ور وغوښتل. د ۱۹۵۰ د جولای په میاشت کې، افغانستان له شوروي اتحاد سره ټرانزیټ موافقتنامه لاسلیک کړه او د افغانستان تجارتي مالونه شمال ته روان سول.
واشنګټن دې موافقي ډېر وارخطا کړ او د ۱۹۵۰ کال د نومبر په میاشت کې یې فیصله وکړه چي د افغانستان او پاکستان ترمنځ په جنجال کې مستقیماً او رسما داخل سي. له دواړو هیوادونو څخه یې وغوښتل چي خپل اختلافات د یوه دریم ګړي له لاري حل کړي. واشنګټن پیشنهاد وکړ چي د دواړو هیوادونو ترمنځ به تګ راتګ وکړي مګر د منځګړي رول به ونه لوبوي. پیشنهاد سوي حل ته باید دواړه هیوادونه غاړه کښېږدي.

۱ ـ دواړه هیوادونه باید پر یوه بل رسمي حملې بندي کړي او کوښښ وکړي چي له شخصي حملو څخه ځانونه وژغوري.
۲ ـ د سرحدي پېښو د له منځه وړلو کوښښ دي وکړي او د دغه راز پیښو په تعقیب دي د لمسوونکو تبلیغاتو څخه ډډه وکړي.
۳: سفیران دي تبادله کړي.
۴ ـ دواړه خواوې دي استازي وټاکي چي په درېو میاشتو کې سره وګوري او د مخکنیو شرایطو له اېښودلو او تبلیغاتو څخه پرته دي پر اختلافاتو خبري سره وکړي.
افغانستان د امریکا د دې پیشنهاد هرکلی وکړ او سمدستي یې ومانه. پاکستان مستقیما جواب ورنه کړ مګر صدراعظم لیاقت علي خان په عامه اعلان وکړ چي پښتونستان، په بشپړه توګه، په افغانستان کې، د څو کسانو د خیال محصول دی. له دې څخه وروسته د پاکستان مشرانو وویل چي له افغانستان سره د پښتنو پر موضوع له سره بحث نه کوي.
د ۱۹۵۱ کال د مارچ په میاشت کې د خارجه وزیرمرستیال مګي بیا پاکستان او افغانستان ته سفر وکړ. هغه په کابل کې د ظاهرشاه سره وکتل او پاچا د پښتونستان په برخه کې خپلي تکرار خبري وکړې. د پښتونستان پر مسله باندي د افغان مقاماتو ټینګار او تبلیغاتو د امریکایي مقاماتوحوصله ختمه کړه او نور یې د دې موضوع په حلولو کې کوښښونه بېځایه وبلل. ښاغلي مګي د افغانستان د صدراعظم د کفیل علي محمد سره پر ذات البیني موضوعاتو خبري وکړې مګر د پښتونستان موضوع یې هم ورسره راپورته کړه. علي محمد وویل چي دوی د پښتونستان لپاره د سرنوشت د ټاکلو د حق غوښتنه کوي خو مګي ورته وویل چي د سرنوشت د ټاکلو مسله د لومړي نړۍ وال جنګ څخه وروسته ښه پالیسي وه مګر دا موضوع اوس زړه سوې ده او بله خبره دا ده چي د مستقل پښتونستان جوړېدل، له اقتصادي لحاظه، چنداني امکان نه لري. ده علي محمد ته وویل چي لیاقت علي خان، د خپلو داخلي سیاسي دلایلو له مخي، د پاکستان په دننه کې پښتنو ته امتیازات نه سي ورکولای او دا به د افغانستان لپاره بهتره وي چي له پاکستان سره یوه نرمه لاره غوره کړي. مګي واشنګټن ته پیغام واستاوه او ورته وې ویل چي دی فکر کوي افغانستان په ریښتیا غواړي دا ستونزه حل کړي. واشنګټن په جواب کې ورته وویل چي افغانستان ته باید په هیڅ صورت دا تمه ور پیدا نه کړي چي موږ د هغوی د نظریاتو ملاتړ کوو او یا به د منځګړي په حیث را مخته سو. په پیغام کې ویل سوي وه چي ته باید د عمومي رایه ګیرۍ په ځېر تولو قانوني موضوعاتو باندي له بحث کولو څخه ډډه وکړي.
کله چي مګي په دې خبره باوري سو چي افغانستان د یوه معقول حل منلو ته تیار دی نو د پاکستان په صدراعظم لیاقت علي خان پسي ورغی. لیاقت علي تر ډېرو چنو وهلو وروسته موافقه وکړه چي پاکستان د تبلیغاتو بندولو ته


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

تیار دی خو په دې شرط چې افغانستان هم خپل تبلیغات بند کړي، سفیران یو ځل بیا را سره تبادله کړي، د سفیرانو په سطح خبري پیل کړي او په یوه خاص مشترک کنفرانس کي پر ټولو ناحله مسایلو باندي بحث وکړي. ده دغه راز موافقه وکړه چې د افغانستان د ښه نیت پیشنهادونو ته به، چې له ډېره وخته ځنډېدلي دي، رسمي جواب ووایي. مګي د اپریل په میاشت کي واشنګټن ته ستون سو او په دې ډېر خوشاله وو چې د سولي په ماموریت کي بریالی سوی دی.
ده د امریکا خارجه وزیر ډین ایچیسن Dean Acheson او د افغانستان صدراعظم شاه محمودخان ته، چې امریکا ته په سفر ورغلی وو، هم دغه رپوټ ورکړ. مګي د خوشالی په دغه فضا کي شاه محمود په ویرجینیا کي، په خپله کرونده کي، کب نیولو ته دعوت کړ. مګي د صمیمي خبرو په ترڅ کي له شاه محمودخان څخه پوښتنه وکړه چې آیا افغانان ریشتیا هم د پښتونستان په مسله کي صادق دي؟ د شاه محمودخان په سترګو کي اوښکي ډنډ سوې او په ډېرو څرګندو ټکو یې هغه ته بیان وکړ او مګي یې قانع کړ چې دا مسله د افغانانو په احساساتو کي څومره ژوري ریښې لري او افغانان په ریشتیا هم غواړي چې دا موضوع په سوله ایز ډول حل سي. مګي بالاخره د دې مسلې په جدیت پوه سو.
مګي د لیاقت علي خان له خوا د ژمني پوره کولو ته منتظر سو خو دا انتظار یې هسي بېځایه وو. هر څومره چې امریکا کوښښ وکړ؛ د پاکستان له خوا یې جواب تر لاسه نه کړ. د ۱۹۵۱ کال د اکتوبر په میاشت کي، بالاخره، امریکا له کوښښ څخه لاس واخیست او دواړو هیوادونو ته یې اطلاع ورکړه چې د امریکا د ښه نیت کوښښونه ناکام سول. څو ورځې وروسته، یوه افغان لیاقت علي خان وویشتی او مړ یې کړ او قاتل هم ځای پر ځای، د لیاقت علي خان محافظینو وواژه. دا چې افغانستان به په دې وروستی پېښه کي رول درلودلی وي کنه او که یې درلودلی وي نو څرنګه دا مسله همداسي ناحله پاته سوه. مګر د پاکستان تحقیقاتو او د ډېرو ماهرینو له پلټنو څخه څرګنده سوه چې دا د یوه یکړ قاتل کار وو.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ